
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۶/۰۵/۰۱

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(پوولسمه برخه)



(دیکتاتور جنرال ضیاء او د ای‌اېس‌ای مشر جنرال اخترعبدالرحمن، د کابل د سوځولو په ارمان کې[1])

## پنجابي پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۸)

### د جنرال ضیاء ناڅاپي او مرموز مرګ

د جنرال ضیاء وژنه د هغه د دښمنانو او پلویانو لپاره ډېره هېښوونکې وه، دا پېښه لا تر اوسه د یوې پېچلې پېښې (معما) په توګه پاتې شوې چې تر اوسه په سمه توګه د نوموړې پېښې عاملین او عوامل نه دي په ډاګه شوي او یا هم په لوی لاس پټ ساتل شوي دي، په دې اړه ډېرو څېړونکو خپل لیدلوري لیکلي خو اصل موخه لا همداسې په تیاره کې پاتې ده، ما چې له ډېرو کلونو راپدېخوا پاکستان او د پاکستاني جنرالانو، په ځانګړي توګه د جنرال ضیاء د مرګ څرنګوالی، پړاو په پړاو (په تدریجي توګه تر غور لاندې نیولی دی، زما مالومات او لید د نورو څېړونکو او مفکرینو د لیدلورو په پرتله، متفاوت دی چې په تړاو یې خپل لید او مالومات وړاندې کوم.

[1]: د کابل د سوځولو دنده جنرال ضیاء، د پاکستان د ای‌اېس‌ای مشر، جنرال اختر عبدالرحمن ته ورکړې وه، ویلي یې وو:**«کابل باید ورو، ورو په اور کې وسوځول شي.»** خو وړاندې له هغې چې کابل د خپلو ګوډاکي افغان باندېانو په لاس وسوځوي، په خپله د امریکایي کفارو سره یو ځای، د هندوانو په څېر په اور کې وسوځېدل، د هندوانو سوځېدل خو لا ښه دي چې مخکې له سوځولو یې خپله کورنۍ د خپل مړي څېره لیدلی شي خو د دغو امریکایي غلامانو شکلونه هم چا ونه لیدل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

جنرال ضياء د ۱۹۸۸ز. کال د اگست په ۱۷مه نېټه، د پنجاب بهاولپور ښار ته د (M1 Abrams) امریکایي ټانکونو[2] د نبني ویشتلو د ازماېښت د لیدلو په موخه تللی ؤ، نوموړی د پاکستان د هوایي ځواک په (C-130 Hercules) الوتکه (چې د جنرال ضیاء رسمي الوتکه وه) سفر کاوه، په دې سفر کې له جنرال ضیاء سره د پاکستان «د پوځي استخباراتو، ای‌اېس‌ای مشر، اختر عبدالرحمن (چې د ضیاء نږدې کس ؤ) بریګېډیر صدیق سالک او نور جنرالان مله وو.»[3]

کله چې جنرال ضیاء له نورو پوځي چارواکو سره بهاولپور ته ورسید، هلته دوه تنه امریکایان هم ورسره یوځای شول. هغوی یوه ورځ مخکې بهاولپور ته تللي وو چې یو محلي عیسوي مرکز (convent)ته ولاړ شي او د هغې امریکایی عیسوي راهبې د وژل کېدو له امله خواخوږي څرګنده کړي چې څو ورځې وړاندې په بهاولپور کې وژل شوې وه.
د ټانکونو له نندارې وروسته کله چې جنرال ضیاء د C-130 الوتکې ته پورته کېده نو د خپل عادت له مخې، هغه څو نورو کسانو ته هم بلنه ورکړه چې له ده سره په هغه الوتکه کې ولاړ شي. د امریکا سفیر (ارنولډ رافیل) دا بلنه ومنله او امریکایی جنرال (رابرټ واسوم) هم له ړ ځنډ وروسته ورسره یوځای شو.[4]

د جنرال ضیاء الوتکې له بهاولپور څخه د اسلام آباد د هوایي ډګر پر لور الوتنه وکړه. له عادي پورته کېدلو، لږه شېبه وروسته، د کنټرول برج، له الوتکې سره اړیکه پرې شوه. «کلیوالو ولیدل چې Pak-1الوتکه په آسمان کې ښکته پورته کېږي... **هغه وو چې دربیم ځل [ستلج سیند ته نږدې] په دښته کې مخامخ په پوزه وغورځېدله او په خاوره کې ښخه شوه. بیا وچاودیده او د سون توکو له سوځېدو سره د اور لمبه شوه.»**[5]

**په دغه پېښه کې جنرال ضیاء، جنرال اختر او د امریکا سفیر او یو تن جنرال، سربېره ۷ تنه پاکستاني جنرالان، له خپل پرسونل او د الوتکې له عملې سره چې د ټولو شمېر ۳۰ تنو ته رسیدهٔ ووژل شول.**[6]

د پاکستان د سنا رییس غلام اسحاق خان، د راډیو او ټلوېزیون له لارې د جنرال ضیاء مړینه اعلان کړه.

جنرال ضیاء د واک د ساتلو په موخه د ځان لپاره ډېر کورني او بهرني دښمنان رامنځ ته کړي وو، په نړیواله کچه، افغانستان، هند، شوروي اتحاد او نور هېوادنه وو او په کور دننه یې نږدې ټول ګوندونه په ځانګړي توګه د لومړي وزیر ذوالفقارعلي بوټو د پیپیپي ګوند او د هغه کورنی د جنرال ضیاء د سر دښمنان ګرځېدلي وو چې **په غبرګون کې د جنرال ضیاء «د واکمنی پر مهال، پر هغه ۶ ځله بریدونو شوي دي چې یو ځل د هغه د سپرلی الوتکه د راکټ تر برید لاندې هم راغلي وه.»**[7]

د جنرال ضیاء پر مرګ چې چا وژړل هغه یوازې افغان جهادي تنظیمونه وو، نور نو په نړی او پاکستان کې ډېری وګړي د هغه د تېرو ظلمونو له کبله هېڅ خواشیني نه وو، په ځانګړي توګه د لومړي وزیر بوټو له اعدام وروسته.

---

[2]: امریکایانو غوښتل نوموړي ټانکونه پر پاکستان وپلوري چې د ډزو پر مهال یې سمه نښه ونه ویشتل شوه او قرارداد ونه شو.
[3]: https://www.dawn.com/news/1427540
[4]: https://www.dawn.com/news/1427540
[5]: https://www.dawn.com/news/1427540
[6]: تلک خرس، ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین، فارسي ژباړه: ډاکټر نثار احمد صمد. ۱۷مخ
[7]: هماغه، ۱۹ مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر (جورج سولتس) ضیاء شهید وباله او ګلبدین حکمتیار ته یې داډ ورکړ چې له دې وروسته به بیا هم امریکا د افغانستان د آزادۍ لپاره هر ډول مرسته وکړي.[8]

افغان جهادي مشرانو ژوره خواشیني څرګنده کړه او هغه یې شهید وباله، پېښور مېشتو افغان تنظیمونو د ضیاء په وژنه ویر وکړ، ځکه هغه د جهادي ډلو تر ټولو مهم پوځي او مالي ملاتړی ؤ.



(معلم عطا محمد نور د خپلي لويي ږيري سره د جنرال ضياء له مرګ وروسته په ديوالونو د هغه

**جنرال ضیاء په ډېر بد مرګ ووژل شو، له امریکایي کفارو سره یو ځای په سرو لمبو کې وسوځول شو او مړی یې هم په ډېر ناوړه حالت کې وو چې خدای خبر دی پېژندل شوی به وي که نه؟ د جنرال ضیاء وژل چې امریکایانو هم شهید بللی او افغان تظیمونو هم، نه پوهېږي چې دا د مسلمانانو شهید دی که د کفارو؟** په هر حال، هغه که جنتي وي که جهنمي، په پاکستان، هند او افغانستان کې د ده له شره ډېر خلک خلاص شول.

د جنرال ضیاء مرګ ډول، ډول شکونه او لیدلوري رامنځ ته کړل، داسې ګومانونه کېدل چې کېدای شي د شوروي اتحاد، افغانستان او هندي استخباراتو لهخوا د جنرال ضیاء د سپرلۍ الوتکه راغورځول شوې وي.

بنستیزه پوښتنه دا ده چې د جنرال ضیاء د الوتکې پېښه څرنګه رامنځ ته شوه؟ آیا دا یوه قصدي پېښه وه، که تصادفي؟

لومړی باید ووایو چې د امریکایي ټانکونو د کتنې دنده پر جنرال ضیاء او جنرال اختر پورې اړه نه لرله، دا چې دوی څرنګه د ښکاریانو په لومه (دام) کې ښکېل کړای شول په اړه یې د جنرال ضیاء او د جنرال اخترعبدالرحمن له زامنو اورو:
د جنرال اختر زوی وایي چې بریدجنرال (بریګېډیر) **امتیاز احمد ببلا** زما پلار قانع کړ چې بهاولپور ته ولاړ شي، څو د پوځ په مشرتابه کې د ممکنه بدلونونو په اړه له جنرال ضیاء سره خبرې وکړي.
هغه زیاته کړه چې زما پلار دغې الوتکې ته جنرال امتیاز احمد ببلا ورپورته کړ، هغه تل ورسره په اړیکه کې ؤ او یو، دوه ورځې مخکې یې هم لیدلی ؤ.

د جنرال ضیاء زوی اعجازالحق وایي چې زما د پلار یو تنADC (یاور) راته وویل چې د هغه د پرلهپسې ټیلیفونونو وروسته، زما پلار په غوسه شو ویې ویل:«ده ته څه ستونزه ده؟ ولې دومره ټینګار کوي چې زه باید ولاړ شم؟»[9]

د جنرال ضیاء زوی د یو لوړپوړي افسر یادونه کوي چې موخه یې جنرال **(محمود علي دراني)** دی، هغه وایي: زما پلار د یو لوړپوړي افسر له خوا قانع کړای شو چې ډېر ورته نږدې ؤ او بیا بیا یې غوښتنه کوله. هغه زموږ کور ته د ارمي هاوس د ثبت له مخې، ۱۶ ځله ټیلیفونونه کړي وو. هغه

8: هماغه، ۲۸مخ

9:https://www.dawn.com/news/1427540



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

غوښتل چې زما پلار په بهاولپور کې په مراسمو کې ګډون وکړي او له هغه سره دې د ګالف لوبه هم وکړي. هغه پرلهپسې غوښتنه کوله چې ملتان ته د مېلمه په توګه ورشي.[10]

دغو دوو جنرالانو چې یو یې د ای‌اېس‌ای جنرال، امتیاز احمد بېلا او بل یې د پوځ جنرال، محمود علي دراني ؤ، جنرال ضیاء او جنرال اختر د دوی د ډېر ټینګار له امله اړ شول بهاولپور ته په هغه الوتکه کې سفر وکړي چې ۳۰ کسان په کې ووژل شول.

## د الوتکې تخنیکي ستونزه (عوارض)

دغه الوتکه (C-130 Hercules) څلور انجنلرونکي، د پاکستان د هوایي ځواک یوه پرمختللي امریکایي الوتکه وه چې د ببړنیو حالاتو پر مهال یې که چېرې دوه ماشینونه کار پرېږدي، بیا هم الوتنه کولی شي، په ناسم موسم او توره شپه کې هم الوتنه کوي او پر نورو ډېرو امنیتي وسایلو سمباله ده.

نوموړې الوتکه وړاندې له هغې چې الوتنه وکړي د ۱۴ تنو تخنیکي انجینرانو لهخوا معاینه شوې وه.[11]

د پاکستان د پوځ یوې پلټنې چې د امریکایي کارپوهانو مرسته ورسره وه، تخنیکي خرابۍ، د پیلوټ تېروتنه، له بهر څخه پر توغندي ویشتل او یا دننه په الوتکه کې د ځواکمني چاودني احتمال رد کړ.
همدارنګه د برېښنا د پرې کېدو هیڅ نښه نه وه، د پروپېلر د پښو حالت ښودله چې د الوتکې انجنونو په بشپړ سرعت سره کار کاوه، برېښنایي سیستمونه او د تېلو پمپونه ټول عادي وو.
د الوتکې د پاتې شونو معایناتو څرګنده کړه چې الوتکه په آسمان کې نه ده ټوټه شوې، کوم توغندی نه دی پرې لګېدلی او نه هم د الوتکې دننه اور لګېدلی ؤ.[12]
د میخانیکي خرابۍ احتمال هم وڅېړل شو، د C-130 دوه جلا هایدرولیک سیستمونه لري چې دواړه د پېښې پر مهال فعال وو، په لنډه توګه، **دا یوه داسې الوتکه وه چې ډېر باور پرې کېدای شو بیا هم، په رڼا ورځ او په شنه آسمان کې د عادي الوتنې پر مهال وغورځېدله.**[13]

د جنرال ضیاء زوی ااعجازالحق په یوه مرکه کې د نوموړي الوتکې د خوندیتوب په اړه وویل چې «که ټول څلور انجنونه هم خراب شي، دا الوتکه کولی شي ورو الوتنه او ناسته وکړي(glide) وکړي او ناڅاپه نه لوېږي.»

سربېره پر دې چې پلټنو ویل، الوتکه د تخنیکي ستونزې له امله نه ده غورځېدلې **خو د الوتکې اړوند امریکایي شرکت (لاکهید سي ــ ۱۳۰ هرکولس) بیا برعکس څرګندوني وکړې چې دا یوه تخنیکي ستونزه وه.**

ااعجاز دعوه کوي چې دا یو ویجاړوونکي عمل ؤ او دا تخنیکي ستونزه نه وه، هغه وایی چې «موږ پرېکړه وکړه چې د الوتکې پر جوړونکي شرکت باندې د یو میلیارد ډالرو دعوه وکړو ځکه هغوی ویل چې دا تخنیکي ستونزه وه. موږ غوښتل ثابته کړو چې دا تخنیکي ستونزه نه وه. که تخنیکي ستونزه وي نو باید تاوان یې راکړي، که نه نو باید ومني چې دا یو ویجاړوونکی عمل ؤ.

---

[10]:https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/demystifying-death-of-former-pakistani-president-ziaulhaq/1741508
[11]:https://www.dawn.com/news/1427540

[12]هماغه
[13]:هماغه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**پە الوتکه کې چاودنه او پر پیلوټانو د بې‌حسه کوونکي ګاز کارولو نظریه**

داسې دعوې هم شوي چې په الوتکه کې دننه چاودنه شوې، هغه مهال چې جنرال ضیاء له بهاول پور څخه د اسلام آباد پر لور روانیدو نو په بهاولپور کې د ورکړل شویو ډالیو په منځ کې د امونو صندوقونه (کرېټونه) هم وو چې د آمونو په کرېټونو کې چاودیدونکي توکي ځای‌پرځای شوي وو، د جنرال ضیاء زوی اعجازالحق (چې ډېر هوښیار کس نه ښکاري) د نوموړي الوتکې د غورځیدلو په هکله ډرې غبرګې ادعاګانې وکړې، نوموړي د دې پوښتنې چې «دا ښینه تر ډېره له آمونو سره تړل کېږي، ډېر خلک افسانوي بڼه هم ورکوي، په الوتکه کې د آمونو د چاودنې حقیقت څه دی؟
هغه په ځواب کې وویل: د آمونو نظریه رښتیا ده، د آمونو په صندوق کې چاودنه شوې وه.[14]

د جنرال ضیاء د الوتکې د سقوط یو عامل د یو ډول ځانګړې د اعصابو فلجوونکي ګاز کارولو تور هم لګول شوی دی. د پاکستان د هوایي ځواک کوموډور او د پلټنې د ټیم یو غړی **ایر کوموډور ظهیر زېدي**[15] د الوتکې د پرځولو په هکله، هممهاله درې ډوله ویجاړوونکي احتمالي بریدونه یاد کړي دي: په الوتکه کې دننه چاودنه؛ له بهر څخه پر الوتکه د توغندي توغول او په کابین کې پر پیلوټانو د فلجوونکي ګاز کارول. هغه وایي چې «څو ډوله داسې تدابیر نیول شوي وو چې که یوه هڅه ناکامه شي، بله هڅه به کار وکړي. **نو په الوتکه کې د کابین دننه د اعصابو فلجوونکی ګاز هم ایښودل شوی ؤ چې دا ګاز دومره ځواکمن ؤ چې پیلوټان یې فلج کړل، همدا لامل ؤ چې الوتکه د ځمکې له لګېدلو مخکې، په هوا کې ښکته پورته الوتله، الوتکې له دې کبله نامنظمه الوتنه کوله چې پیلوټان د ګاز د کارولو له امله فلج شوي وو او کنټرول یې له لاسه ورکړی ؤ...** .[16]

د ظهیر زېدي نظریه داسې ده لکه د چرمیې توپک ډز، د هغه له څرګندونو ښکاري چې جنرال ضیاء خورا ډېر دښمنان لرل، داسې څوک نه وو چې د الوتکې د ویجاړولو مخنیوی وکړي، د ضیاء دښمنانو په الوتکه کې په ډاډه زړه چاودیدونکي توکي او وژونکی ګاز ځای‌پرځای کړي او په هوا کې یې له ځمکې څخه د راکېټ برید هم پرې کړی دی.

د ظهیر زېدي یوازې د ګازو کارولو نظریه کېدای شي په احتمالي توګه ومنل شي خو دننه په الوتکه کې ځواکمنه چاودنه او له ځمکې څخه د راکېټ توغول ناشوني ښکاري.

د جنرال ضیاء زوی اعجاز، د دا ډول ګازو راوړل د پاکستان د هوایي ځواک یو افسر، اکرم اعوان (چې د اسراییلو او هند د جاسوسۍ په تور نیول شوی ؤ) تورنوي، وایي چې هغه منلي وه چې دا ډول ګاز یې راوړلی ؤ خو نوموړی بیا وروسته خوشې شو.[17] هغه نه وایي چې اکرم اعوان هغه ګاز له کوم ځای او د څه لپاره راوړی ؤ... .

---

[14]:https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/demystifying-death-of-former-pakistani-president-ziaulhaq/1741508
[15]: د جنرال ضیاء د زوی اعجاز پر وینا، ظهیر زېدي، ۱۰۰ مخیزه راپور لیکلی ؤ چې له دې کبله څورول شوی او وروسته مړ شو.
[16]:https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/demystifying-death-of-former-pakistani-president-ziaulhaq/1741508
[17]:https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/demystifying-death-of-former-pakistani-president-ziaulhaq/1741508


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ااعجاز وايي چي کله موږ د عصبي ګاز د کارولو موضوع څارله نو په اسلامآباد کې د امريکا په سفارت کي د استخباراتو مشر، زما ورور ته وويل چي که تاسو غواړی په سياست کې پاتې شئ نو له دغي موضوع تېر شئ.

لکه وړاندې چې يادونه شوي، د پيښي د څېړلو په موخه د پاکستان او امريکا يو ګډ څېړنيز کميسيون ټاکل شوی ؤ چې وروسته له دوو مياشتو څېړنو او ګروېږنو يې وويل چې دا تخنيکي ستونزه نه، بلکې يو ويجاړونکی جنايي عمل ؤ. کميسيون دا هم ويلي وو: **شونې ده يو ډول بې‌بويه او بې‌رنګه ګاز د الوتکې په کابين کې خوشې کړای شوی وي.**[18] همدا وجه ده چې هېڅ د خطر (Mayday) سيګنال نه دی لېږل شوی.

د پاتې شونو کيمياوي ازموينه چې د اسلامآباد په Pakistan Institute of Nuclear Science and Technology کې ترسره شوه، وښودله چې ځينو بهرنيو عناصرو، د معمولي اندازې پر خلاف شتون درلود، د بېلګې په توګه، **د pentaerythritol tetranitrate (PETN) نښې وموندل شوې چې دا داسې چاودېدونکې توکي دي چې وروسته په څو ترهګريزو بريدونو کې هم کارول شوي چې لږ تر لږه دوه يې د الوتکو د نسکورولو لپاره وو. همدارنګه د انتيموني او فاسفورس پاتې شوني هم وموندل شول چې عموماً د الوتکو په جوړښت يا تېلو کې شتون نه لري.**[19]

ااعجاز پر امريکايانو تور لګوي چې د الوتکې د غورځولو د عواملو د موندلو په هکله يې وړ او جدي هڅې ونه کړې. هغه وايي:«يو بل مهم ټکی دا دی چې د FBI اصول دا دي چې که د نړۍ په هر ځای کې يو امريکايي تبعه ووژل شي، بايد په ۴۸ ساعتونو کې پيښه وڅېړي او په ۷۲ ساعتونو کې پلټنه پيل کړي خو دلته چې د دوی سفير وژل شوی ؤ، هغوی ته تر ۱۰ مياشتو پورې د راتګ اجازه ورنه کړای شوه او کله چې راغلل، له هغوی سره اصلاً د پلټنې دلچسپي نه وه، بلکې خپل سياحت يې کاوه![20]

اعجاز وايي « کله چې پيښه وشوه، موږ هڅه وکړه پيښه په جدي ډول تعقيب کړو خو د هېواد په دننه او هم په بهر کې د حقيقت پټول (cover-up) دومره ځواکمن وو چې موږ ونه شول کولای اصلي حقيقت ته ورسېږو. يو شی واضح ؤ: **کله چې د امريکا او پاکستان د هوايي ځواک ګډه پلټنه ترسره شوه، امريکايانو له پيله هڅه کوله، دا يوه عادي پيښه وښيي.**

اعجاز يې په دوام وايي چې موږ د سي ۱۳۰ الوتکې پر جوړوونکي کمپنۍ باندې د دعوې لپاره، د نيويارک يو مشهور وکيل وګوماره، هغه په پيل کې ډېر خوشاله ؤ، ويې ويل چې دا د پېرې پيښه ده. تر دې چې هغه زموږ لپاره د مطبوعاتي کنفرانس لګښت هم پر غاړه واخيست خو څو ورځې وروسته يې علاقه کمه شوه. کله مې چې وليد، ويې ويل چې **د امريکا د ملکي هوايي چلند اداري مشر، د غرمې ډوډۍ ته بلنه ورکړې وه او له هغې وروسته يې بيا هېڅ اړيکه راسره ونه نيوله.**

---

[18]: تلک خرس، ډګروال محمد يوسف او مارک ادکين، فارسي ژباړه: ډاکټر نثار احمد صمد. ۲۱مخ

[19]:https://www.dawn.com/news/1427540
[20]:https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/demystifying-death-of-former-pakistani-president-ziaulhaq/1741508

**اعجاز زیاته کړه چې موږ د وژل شوي امریکایي سفیر آرنولډ رافیل مېرمن، رابین رافیل هم له خان سره کړه خو وروسته هغې هم له موږ سره اړیکه پرې کړه چې بیا یې هېڅکله په دې اړه خبرې ونه کړې. ویل کیږي امریکا غوښتل هغې ته د سفارت دنده ورکړي.**

## طبي او عدلي څېړنې:

د ضیاء زوی، د یوځ مشر، د مړو پر جسدونو د پلټنې پر وړاندې د خندونو پر اچولو تورن کړ، هغه وویل چې د مړو په جسدونو هېڅ ډول څېړنه ونه شوه. د جسدونو پاتې شوني باید لاهور ته د څېړنو لپاره استول شوي وای خو په وروستۍ شیبه کې وویل شول چې دا کار مه کوئ. یوازې د یو تن امریکایي بریګېډیر جنرال رابرټ واسوم (چې په همدې الوتکه کې وژل شوی ؤ) پر جسد څېړنه وشوه. [21] چې په هغې کې د هغه په ستوني (trachea) کې د لوګي هېڅ نښه نه وه، دا ښيي چې هغه له ټکر مخکې مړ شوی ؤ، نه د اور له امله.[22]

په ملتان کې یو پوځي روغتون چمتو شوی ؤ چې د ټولو ۲۹ کسانو مړي وڅېړي خو هغوی ته وویل شول چې دا کار ونه کړي، دا امر له لوړو مقاماتو راغلی ؤ. وروسته هغه افسران او ډاکټران چې په دغه روغتون کې یې کار کاوه، د پاکستان لرې پرتو سیمو ته ولېږدول شول.[23]

داسې ښکاري چې له ځمکې سره د الوتکې د ټکر له امله مړي په سختۍ سره ټوټې او بیا سوځېدلي وي چې په دې توګه د هغوی د طبي عدلي معاینات ناشوني وي، بلکه دا چې د امریکایي جنرال رابرټ واسوم د مړي معایناتو پایله چې ګواکې د الوتکې له پرېوتلو وړاندې د ګاز له کبله مړ شوی ؤ، سمه نه ښکاري، په دې دلیل چې که چېرې فلجوونکی ګاز د پیلوټانو په کابین کې خوشې کړای شوی وي نو اغېز به یې دومره نه وي چې په الوتکه کې هغې ځانګړې کوټې چې جنرال ضیاء او امریکایي چارواکي په ناست وو، رسیدلی وي.



(سي ۱۳۰ هرکولس الوتکه چې د جنرال ضیاء او انډیوالانو د مرګ سبب شوه)

---

[21]:https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/demystifying-death-of-former-pakistani-president-ziaulhaq/1741508
[22]:https://www.dawn.com/news/1427540
[23]:https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/demystifying-death-of-former-pakistani-president-ziaulhaq/1741508


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ




عطا نور د خپلې لوی جهادي ږيرې او د امريکا د اشغال پر مهال له غربي قيافې سره.

نېټه: ۱۴۰۵/۲/۱۰ل. ل

**نور بيانور بيا**

[د ښاغلی محمد انور اخړ نوري ليکنې په دی لينک کې ولولی.]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ